ښاغلی الحاج عبدالله غمخور

# دخپلواکۍ نامتو مشر غازی میر زمان خان

سـر لښکر د لښکریانو خـانه ته وې
نـاموره دغـازیانو خانـه ته وې
کارفرما په "بریکوټ" کې بل څوک نه و
رهنمـا د باتـورانو خـانه تـه وې
معـرکـه د خپلواکۍ وه پـه تا گرمه
شـملور د فـدایانو خـانه ته وې
مبـارز د آزادۍ د میـدانـونو
صـف شـکن د غـلیمانو خانه ته وې
په جـرئت او شـهامت کـې بې مانند ه
پیش قـدم له جنرالانـو خانه ته وې
نه مـلا و نه مـلک و نـه ارباب و
غـوځ پـه غـم د افغانانو خانه ته وې
د کـونړ د شـنو درو او جگو غرونو
هنـگامه د شنو زمـريانو خانه ته وې
په "غـازي" باچاوې گران له هره چانه
نـور چـشم د چشمانو خـانه ته وې
د جـهاد د سـتر بـري لـه بـرکته
چې "لوی خان "شوې د خانانو خانه ته وې
پـه میـوند که آوازه د ایـوب خان وه
شـهسوار د کونـړيانو خانه ته وې
سـر آغـاز د قـربانۍ د منزلونو

ســـــــرآمــد د فـــاتــحانو خـانه ته وې
چــــې تـــــاريخ دې هيـــرولې نشي خانه
ځـــــار قــــربان شم ستا د تـــورې د مړانه